د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 482**

(22 - 26 سرطان 1404 هـ ش)

## له ایران څخه د افغان کډوالو اجباري اخراج؛ لاملونه او پر دوه اړخیزو سیاسي اړیکو یې اغېزې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- له ایران څخه د افغان کډوالو اجباري اخراج؛ لاملونه او پر دوه اړخیزو سیاسي اړیکو یې اغېزې.........3
- د ایران له لوري د افغان کډوالو د اجباري اخراج حقوقي ارزونه ............................................3
- په زوره د افغان کډوالو د ویستلو لاملونه ..............................................................4
- د افغانستان-ایران پر دوه اړخیزو سیاسي اړیکو یې اغېزې ..................................................6
- پایله .........................................................................................7
- وړاندیزونه ....................................................................................8
- مأخذونه .......................................................................................9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## له ایران څخه د افغان کډوالو اجباري اخراج؛ لاملونه او پر دوه اړخیزو سیاسي اړیکو یې اغېزې

**سریزه**

جګړې د نورو بدمرغېو ترڅنګ د کډوالۍ ستونزه هم زېږوي او ایران ته د افغانانو د کډوالۍ یو ستر لامل همدا جګړه ده. سیاسي ستونزې، بې کاري، ټولنیزه نابرابري او د بشري حقونو نقض هغه نور مهم لاملونه دي چې انسانان کډوالۍ ته مجبوروي.

د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري د ۲۰۲۴ز. کال د راپور پر بنسټ په نړۍ کې ۳۷,۹ میلیونه وګړي په کډوالۍ کې ژوند کوي چې ٦٥ سلنه یې یوازې له څلورو هېوادونو څخه دي، سوریه ٦,٣ میلیونه، وینزویلا ٦,٢ میلیونه او اوکراین او افغانستان ٦,١ میلیون کډوال لري،[1] یعنې افغانستان په نړۍ کې د کډوالۍ له مخې په څلورمه کټګورۍ کې دی. د افغانستان له دې ٦,١ میلیونه کډوالو څخه یې پنځه میلیونه پنځه لکه شپږ ویشت زره او اوه سوه کډوال په ګاونډیو هېوادونو کې ژوند کوي، چې له دې ډلې په ایران کې 3.752.300، په پاکستان کې 1.751.500، په تاجکستان کې 10.400، په ازبکستان کې 9000 او په ترکمنستان کې 3500 تنه اوسیږي.[2]

ایران له اسراییلو سره د وروستۍ جګړې وروسته په پراخه کچه د افغان کډوالو اجباري اخراج ته مخه کړه چې دا په تېر تاریخ کې د ایران له لوري د افغان کډوالو د اجباري اخراج تر ټولو ستره پېښه ده. د راپورونو پر بنسټ په ایران کې نږدې ۲,٦ میلیونه داسې افغان کډوال اوسیږي چې د اوسېدو قانوني اسناد نه لري.[3]

له ۲۰۲٥ز. کال راهیسې ایران له یو میلیون څخه ډېر افغان کډوال له خپلې خاورې ویستلي دي، د روان کال د جون میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د جولای میاشتې تر ۹مې نېټې پورې نږدې ٦۰۰ زره افغان کډوال له ایران څخه ویستل شوي دي چې له دې ډله یې تقریباً ۷۰ سلنه په زور شړل شوي، په دې اجباري اخراج کې نږدې ۲٥ سلنه کوچنیان دي[4].

په دې تحلیلي لیکنه کې دې پوښتنو ته ځواب ووایو چې ایران ولې په بې سارې توګه د افغان کډوالو اجباري اخراج ته مخه کړې؟ ایا د ایران دغه کړنه د بین المللي حقوقو نقض نه دی؟ پایلې به یې څه وي؟ او د ایران-افغانستان پر دوه اړخیزو سیاسي اړیکو به څه اغېز ولري؟

### د ایران له لوري د افغان کډوالو د اجباري اخراج حقوقي ارزونه

په بین المللي حقوقو کې د کډوالۍ په اړه تر ټولو مهم سند د کډوالو د وضعیت په اړه د ۱۹٥۱ز. کال کنوانسیون دی چې په دې کنوانسیون کې د کډوالو ټول حقوق، لکه: په دربیمه ماده کې د تبعیض د منعې حق، په څلورمه ماده کې د مذهبي ازادۍ حق، په دیارلسمه ماده کې د ملکیت حق، په پنځلسمه ماده کې د ټولنو د جوړولو حق، په شپاړسمه ماده کې محاکمو ته د لاسرسي حق، په اوولسمه ماده کې د کار حق، په دوه ویشتمه ماده کې د تعلیم حق، په شپږ ویشتمه ماده کې د ګرځېدو او راګرځېدو یا د سفر د ازادۍ

حق، په دېرشمه ماده کې د شتمنيو د انتقال حق، په دري دېرشمه ماده کې د اجباري اخراج د منعې حق[5] او داسې نور حقونه ياد شوي دي چې د ايران حکومت د افغان کډوالو په اړه د دغو حقونو څخه يې ځينې نقض کړي دي په ځانګړي ډول دغه کنوانسيون اجباري اخراج منعه کوي، خو ايران عملاً افغان کډوال په اجباري ډول اخراجوي.

د دې ترڅنګ د شکنجې د منعې په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسيون د دريېمې مادې لومړۍ فقره هم د کډوالو اجباري اخراج منعه کوي، دغه ماده وايي: (هيڅ دولت نشي کولای چې يو شخص بل داسې دولت ته وشړي، يا يې خپل دولت ته ستون کړي او يا يې هم استرداد کړي، چې هلته د ده د شکنجې قوي دلايل موجود وي.)[6]

د دې ترڅنګ د بشر حقوقو د نړيوالې اعلاميې څوارلسمه ماده خلکو ته حق ورکوي تر څو د خپل امنيت د خونديتوب په موخه نورو دولتونو ته کډوال شي او يا هم د يو بل دولت د تابعيت اخيستلو ته اقدام وکړي.[7] همدارنګه د ملګرو ملتونو د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق[8]، د کلتوري او اقتصادي حقوقو نړيوالو ميثاق[9] او داسې نور نړيوال سندونه د کډوالو پر حقوقو تاکيد کوي او د دغو نړيوالو سندونو په رڼا کې ويلای شو چې ايران د افغان کډوالو د اجباري اخراج له لارې د افغان کډوالو د تعليم حق نقض کړی ځکه د دوی تعليم نيمګړی پاتې شو او ان دا چې دوی د خپل ترسره کړي تعليم اسناد هم ترلاسه نشو کړی، د دوی د روغتيا حق يې نقض کړی ځکه دا اجباري اخراج داسې مهال ترسره کېږي چې د سختې ګرمۍ څپه ده او د حرارت درجه تقريباً له څلوېښتو پورته دی او په دې اجباري اخراج کې له ۷۰ سلنه پورته کوچنيان او ښځې دي چې د دې ګرمۍ تاب نه لري او ډېره يې ناروغان شوي هم دي، د دې ترڅنګ د شمتنيو د انتقال هم د کډوالو بنسټيز حق دی، خو په کوم ډول چې افغان کډوال له ايران څخه را اخراج شوي اکثرو ته يې د دې فرصت نه دی برابر شوی چې خپلې شتمنۍ منظمې او را انتقال کړي، د دې ترڅنګ د اخراج پرمهال افغان کډوالو له ګڼو نورو ننګونو سره هم مخامخ شوي دي، سي اين اين سره مرکه کوونکی افغان کډوال بشير وايي: "ايراني عسکرو زه په کوڅه کې ونيولم او له ما څخه يې لس ميليونه تومان (شاوخوا ۲۰۰ ډالره) واخيستل بيا يې توقيف‌خونې ته انتقال کړم او هلته يې هم راڅخه د دوه ميليونه تومان (۵۰ ډالره) غوښتنه وکړه او مجبور يې کړم چې هغه هم ورکړم. هغوی موږ ته نه خواړه راکول او نه اوبه او د دې سربېره يې وهل هم راکول."[10] او د دې ترڅنګ ګڼ نور داسې حقونه دي چې افغان کډوال يې په ايران او له ايران څخه د راويستلو پرمهال لري چې اکثره يې د ايران له لوري نقض شوي دي.

### په زوره د افغان کډوالو د ويستلو لاملونه

په زوره د افغان کډوالو د ويستلو ځينې لاملونه شته چې دلته پرې بحث کوو:

**۱- امنيتي لامل:** ايران د پاکستان په څېر د افغان کډوالو موضوع امنيتي (securitization) کړې ده، د يوې موضوع امنيتي کول د کوپن هاګن د امنيتي څېړنو د مکتب تيوري ده او دغه تيوري وايي چې د يوې مسئلې امنيتي کول درې پړاوونه لري: لومړی پړاو: امنيتي بيان(Speech Act) ، د چارواکو او مسؤولينو له لورې يوه مسئله بايد د امنيتي ګواښ په توګه معرفي شي، دويم پړاو: د ټولنې او عامو خلکو له لورې د دې ادعاء منل (Audience Acceptance)او هغه مسئلې ته د امنيتي ګواښ په سترګه کتل، دريم پړاو: غير عادي کړنې (Extraordinary Measures) او د هغه ګواښ د له منځه وړلو لپاره غير عادي ګامونه اوچتول.[11] ايران هم د همدغې تيورۍ پر بنسټ په لومړي پړاو کې دغه موضوع خپل امنيت ته ګواښ معرفي کړ، بيا عام ولس هم دا ومنله چې د اسراييلو په خلاف جګړه کې د افغانانو د جاسوسۍ لاس و او په وروستي پړاو کې ايران غير عادي کړنو ته لاس واچوه او افغان کډوال يې په زوره له خپل هېواد څخه وشړل.

ايراني چارواکي د افغان کډوالو د اجباري اخراج يو لامل امنيتي اندېښنې ګڼي. د ايران او اسراييلو د وروستۍ جګړې پرمهال د دوی ډېر لوړ رتبه چارواکي ووژل شول او مهم امنيتي مرکزونه يې په نښه شول او د دوی داسې فکر کوي چې د دومره استخباراتي ماتې يو لامل داخلي جاسوسان دي او په دې برخه کې افغان کډوالو هم اسراييلو ته جاسوسي کړې ده. د ايران دولتي تلويزيون يوه ويديو خپره کړه او داسې ښودل کېده چې يو افغان کډول دی چې اسراييلو ته يې د مهمو امنيتي ځايونو په اړه جاسوسي کړې ده، په دغه ويډيو کې د افغان په نوم ښودل شوی کس وايي: ما د ۲۰۰۰ ډالرو په مقابل کې جرمني کې ميشت يو کس ته د امنيتي ځايونو معلومات ولېږل.[12] د ايران حکومت د دې ډول کړنو له لارې غواړي چې د وروستۍ جګړې د استخباراتي ناکامۍ پړه پر افغان کډوالو ورواچوي او ځان پاک وښايي. لنډه دا چې د ايران امنيتي اندېښنې هم د افغان کډوالو د اجباري اخراج يو لامل دی.

**۲- پر اسلامي امارت د فشار وسيله:** پاکستان او ايران تل د افغان کډوال څخه د فشار د يوې وسيلې په توګه ګټه اخيستې ده. د اسلامي امارت په دويمه دوره کې سره له دې چې د ايران او افغانستان اړيکې نسبتاً ښې دي، خو د اوبو د قضيې په اړه د ايراني چارواکو څرګندونې او يا په عمومي ډول د هلمند د اوبو په اړه د ايران پاليسي دا ده چې په دې برخه کې ترسره شوی تړون تعديل شي او په دغه سيند کې د ايران حقابه ډېره شي، نو داسې فکر کيږي چې د افغان کډوالو څخه په عمومي ډول او د اوبو په قضيه کې په ځانګړي ډول د فشار د يوې وسيلې په توګه ګټه اخيستل کېدای شي.

**۳- د اقتصادي وضعيت خرابوالی:** ايران د نړيوالې ټولنې له سختو بنديزونو لاندې دی چې له امله يې پر اقتصاد منفي اغېزه کړې ده، همدارنګه له اسراييلو سره د وروستۍ جګړې له امله هم د دوی اقتصاد سخت زيان وليده، د دې ترڅنګ په داخل د کور کې يې بې کاري زياته شوې، سړي سر عايد راټيټ شوی، فقر ډېر شوی، عايدات يې راټيټ شوي او داسې نورو اقتصادي ستونزو سره هم لاس او ګريوان دي. دريم لامل چې خپله ايرانيان يې يادوي هغه دا دی چې دوی فکر کوي د دوی د دندو او کاروبار ځای افغانانو نيولی، که

دوی وشړل شي، نو دوی ته به دندې او د کاروبار زمينه برابره شي،[13] د دې ترڅنګ د ايرن حکومت فکر کوي چې افغان کډوالو د دوی پر اقتصادي سرچينو فشار راوړی او دا هم د اقتصادي وضعيت د خرابوالي يو لامل دی او که دوی خپل هېواد ته ستانه کړای شي، نو د دوی پر اقتصادي سرچينو به يو څه بوج راکم شي، خو دا يوازې يوه پلمه ښکاري ځکه څو ميليونه کډوال څنګه د دومره زيات نفوس لرونکي هېواد پر اقتصادي وضعيت منفي اغېزه کولای شي. د دې ترڅنګ افغان کډوال د بشري قوې په توګه د ايران په فابريکو کې داسې شاقه کارونه کوي چې حتی ايرانيان خپله د هغې کارونو ترسره کولو ته نه حاضرېږي او د دغو کارونو له لارې افغان کډوالو د ايران په ابادۍ او بيارغونه کې برخه اخيستې ده.

**۴- د استخباراتي ناکامۍ پټول او د ولس د ملاتړ جذبول:** د ايران او اسراييلو ترمنځ له يوې لنډې نښتې وروسته، چې په کې د ايران ځينې مهم ځايونه بمبار شول او څو نظامي او علمي شخصيتونه يې ووژل شول، د ايران امنيتي ادارې د خلکو له خوا تر سختو نيوکو لاندې راغلې، ځکه دوی ونه توانېدل چې مهم کسان او ځايونه خوندي وساتي. چې د ولس په مقابل کې د ځواب ويلو، ولسي فشار کمولو او د خپلې استخباراتي ناکامۍ د پټولو په موخه دوی پر افغان کډوالو د جاسوسۍ تور پورې کړ او د هغوی اجباري اخراج ته يې مخه کړه د دې اجباري اخراج له لارې ايران د درېو ګټو د ترلاسه کولو تمه لري، له يوې خوا د خپلې استخباراتي ناکامۍ پړه پر افغان کډوالو اچوي، له بلې خوا غواړي چې ولسي فشار يو څه مديريت کړای شي او د هغوی پام بل طرف ته واړوي او له بل لوري غواړي چې په ايران کې د افغان کډوالو شمېر هم محدود کړي.

## د افغانستان-ايران پر دوه اړخيزو سياسي اړيکو يې اغېزې

ايران د اسلامي امارت له بياواکمنېدو ملاتړ وکړ او ان تر دې چې د جمهوريت په وروستيو کالونو کې يې هم له اسلامي امارت سره اړيکې درلودې او په ايران کې يې ورته غونډې نيولې. کله چې اسلامي امارت په ۲۰۲۱ز. کال کې واکمن شو، نو د ايران رهبر خامنه يي له دغه نوي نظام څخه ملاتړ اعلان کړ او ابراهيم رئيسي ته يې له اسلامي امارت سره د ښو اړيکو د جوړېدو امر وکړ. د دې ښو اړيکو د جوړېدو کېدای شي ډېر لاملونه وي، خو دوه يې ډېر مهم دي: يو دا چې د دواړو نظامونو ترمنځ مشترکات موجود دي او ستر مشترک ټکی يې اسلامي نظام دی او ايران غواړي چې د دوی په څنګ کې هم همداسې يو نظام موجود وي تر څو خپل ولس ته ووايي چې دا دی ګاونډ کې مو هم همدغسې يو نظام موجود دی او بايد د خپل نظام څخه ملاتړ وکړي، دويم دا چې ايران داسې فکر کوي چې د دوی او اسلامي امارت ستر دښمن چې هغه متحده ايالات دي هم مشترک دی، نو ايران غواړي چې په خپل ګاونډ کې د متحده ايالاتو اډې ونلري او له دغه طرف څخه ډاډه شي چې دغه خاوره به د متحده ايالاتو او يا هم نورو ترهګرو ډلو په ځانګړې ډول داعش له لوري د ايران په مقابل کې نه استعمالېږي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ټولنیزې فشرده سازۍ د تیورۍ له مخې، کله چې یوه ټولنه له فشارونو سره مخامخ شي، لکه د کډوالو د ډېر شمېر شتون، نو شخړې او نارضایتی زیاتېدای شي. دا ټولنیز فشارونه، په ځانګړي ډول په هغو سیمو کې چې افغان کډوال ډېر مېشت وي، کولای شي د بې‌باورۍ او امنیتي اندېښنو سبب شي او دا کار کولای شي چې د ایران او افغانستان اړیکې لا پېچلې کړي.

په دومره لوړ شمېر د ایران له لوري د افغان کډوالو اجباري اخراج اسلامي امارت له سختو ننګونو سره مخامخ کړی دی، له یوې خوا یو انساني بحران رامنځته شو چې مدیریت یې اسلامي امارت لپاره ستونزمن دی، له بلې خوا کېدای شي افغاني ټولنه له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان شي په ځانګړي ډول د فقر او بې کارۍ د کچې لوړېدل، د قیمتونو او پر بازار د فشار لوړېدل، پر زېربناء د فشار زیاتېدل او داسې نور... همدارنګه کېدلای شي چې ځینې امنیتي ستونزې هم رامنځته شي او دا په دوه ډوله د تحلیل وړ دي: یو دا چې کېدای شي ایران د دغو کډوالو په منځ کې استخباراتي اشخاص افغانستان خاورې ته رادننه کړي او دویم دا چې د دومره پراخه کچه افغان کډوال راستنېدل کېدای شي ځینو ډلو سره د یوځای کېدو لامل شي په ځانګړي ډول له هغو ډلو سره چې د اسلامي امارت خلاف دي او دا به د افغانستان پر امنیتي وضعیت منفي اغېزه وکړي.

د دې ټولو ستونزو په درک سره ویلی شو چې کېدای شي د افغان کډوالو په دومره لوړه کچه اجباري اخراج به له یوې خوا په حکومتي کچه د اسلامي امارت او ایران په راتلونکو سیاسي اړیکو منفي اغېز ولري، کېدای شي په دغو دوه اړخیزو سیاسي اړیکو کې د بې باورۍ فضاء رامنځته شي او کېدای شي په ځینو برخو کې د همکارۍ روحیه کمزورې شي او دا خپله پر دوه اړخیزو سیاسي اړیکو منفي اغېزه لري او له بلې خوا به په ولسي کچه د دواړو ملتونو ترمنځ اړیکې خرابې شي، ځکه د ایران او اسراییلو په وروستۍ جګړه کې افغان ولس د ایران حکومت او ولس سره ودرېدل او ملاتړ یې ترې وکړ، خو په کوم ډول چې دوی بیا افغان کډوال اخراج کړل له دې سره د افغانانو په منځ کې د ایران حکومت پر خلاف کرکه پېداشوې او دا به د دواړو هېوادونو پر ولسي اړیکو منفي اغېزه وکړي.

## پایله

د ایران له لوري د افغان کډوالو اجباري اخراج د بین المللي حقوقو ښکاره نقض دی په ځانګړي ډول د کډوالو په اړه د ۱۹۵۱ز. کال کنوانسیون. د دې اجباري اخراج ستر لاملونه په ایران کې امنیتي اندېښنې، په دغه هېواد کې د اقتصادي وضعیت خرابوالی، د استخباراتي ناکامۍ د پټولو او د خلکو د رضایت او ملاتړ د جذب په موخه ایران د د غې ناکامۍ پړه پر افغان کډوالو واچوله او هغوی یې پر جاسوسۍ تورن کړل او له

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

همدې امله يې د هغوی اجباري اخراج ته مخه کړه، د دې ترڅنګ ايران له افغان کډوالو څخه د فشار د يوې وسيلې په توګه هم ګټه اخلي.

په دومره لوړه کچه د افغان کډوالو اجباري اخراج د افغانستان پر اقتصادي، امنيتي او ټولنيز وضعيت منفي اغېزه لري او که په دې برخه کې د اسلامي امارت او ايران ترمنځ يو ګډه همغږي او مشخص ميکانيزم رامنځته نشي، نو دا به د اسلامي امارت او ايران په راتلونکو سياسي اړيکو منفي اغېز ولري او په سياسي اړيکو کې به د بې باورۍ فضاء حاکمه شي.

## وړانديزونه

١- اسلامي امارت دې د کډوالو د ستونزو د حل په موخه يوه ملي ستراتيژي جوړه کړي او په دې برخه کې په کابل کې د سلام پوهنتون له لوري د کډوالو د ننګونو او حللارو په برخه کې يو ملي کنفرانس داير شو چې کېدلای شي د دغه کنفرانس د مقالو څخه په دې ملي ستراتيژۍ کې ګټه واخيستل شي.
٢- اسلامي امارت دې په عاجل ډول له ايران څخه راستنېدونکو کډوالو ټولو ستونزو ته رسېده ګي وکړي، هغوی ته سرپناه پېداکړي، د خوراکي توکو او څښاک اوبو د رسولو په برخه کې دې ورسره مرسته وکړي، د سختې ګرمۍ له امله کېدای شي ډېر کوچنيان، ښځې او پاخه عمر لرونکي خلک د روغتيايي ستونزو سره مخ شوي وي، حکومت دې د مسلکي او په کارپوه ډاکټرانو له لارې د هغوی ناروغيو ته رسيده ګي وکړي او په وړيا ډول دې د دواګانو په ورکړه کې هم مرسته وکړي.
٣- اسلامي امارت دې د کورونو مالکان کنټرول کړي تر څو د کډوالو د راستنېدو له امله د کورونو کرايه ګانې لوړې نه کړي، همدارنګه اسلامي امارت دې په يو ميکانيزم کار وکړي تر څو د يو کال يا شپږ مياشتو پورې د دوی کډوالو د کورنو کرايه ګانې ورکړي.
۴- د ايران حکومت بايد د بين المللي حقوقو په رڼا کې د افغان کډوالو ټولو حقوقو ته احترام ولري او د هغوی په ورکړه کې جدي اقدامات وکړي، همدارنګه اجباري اخراج د ټولو بين المللي موازينو او حقوقو خلاف عمل دی، د ايران حکومت بايد د افغان کډوالو له اجباري اخراج څخه ډډه وکړي.
۵- که ايران د افغان کډوالو ستنېدل غواړي، نو بايد د افغان حکومت سره په تفاهم د يو ځانګړي ميکانيزم له لارې دا کار وکړي، په يوازې ځان او په يو طرفه ډول پرته د افغان حکومت او افغان کډوالو له موافقې څخه دا کار کول افغان کډوالو ته ستونزې او ننګونې رامنځته کوي.
٦- د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداره دې د افغان کډوالو د ستنېدو پرمهال له هغوی سره مالي، لوجستيکي او د کمپونو د جوړېدو په برخه کې مرسته وکړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۷- د افغان کډوالو د حقوقو د نقض او اجباري اخراج د مخنيوي په برخه کې  بايد د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداره د خپلو راپورونو په خپرولو او د ملګرو ملتونو له لارې پر ايران فشار راوړي تر څو له دې کار څخه منعه شي او له دې لارې د افغان کډوالو د متضرر کېدو مخنيوی وکړي.

## مأخذونه

[1] UNHCR, "Refugee Data Finder", the UN Refugee Agency, (2024). Access link: https://www.unhcr.org/refugee-statistics

[2] https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan

[3] Fact Crescendo Team." Explained: Iran's Intensified Efforts to Deport Afghan Refugees and its Impact" November 29, 2024, Access link: https://afghanistan.factcrescendo.com/english/explainer-deportation-of-afghan-refugees-from-iran/

[4] Center for Human Rights in Iran. "Iran Forcibly Deports Nearly 600,000 Afghan Migrants Amid Post-War Crackdown", July 9, 2025, Access link: https://iranhumanrights.org/2025/07/iran-forcibly-deports-nearly-600000-afghan-migrants-amid-post-war-crackdown/#:~:text=Using%20the%20post-war%20climate,%20authorities%20have%20cast%20suspicion,in%20Iran%20and%20exposing%20them%20to%20heightened%20violence.

[5] Convention Relating to the Status of Refugees, United Nations, 1951, Access link: https://www.un.org/en/genocideprevention/documents/atrocity-crimes/Doc.23_convention%20refugees.pdf

[6] Convention against Torture and Other Cruel, Inhuman or Degrading Treatment or Punishment, 10 December 1984, Access link: https://www.ohchr.org/en/instruments-mechanisms/instruments/convention-against-torture-and-other-cruel-inhuman-or-degrading

[7] Universal Declaration of Human Right of 1948, Article 14(1). Access link: https://www.un.org/sites/un2.un.org/files/2021/03/udhr.pdf

[8] International Covenant on Civil and Political Rights of 1966, Access link: https://www.ohchr.org/sites/default/files/ccpr.pdf

[9] International Covenant on Economic, Social and Cultural Rights of 1966, Access link: https://www.ohchr.org/sites/default/files/cescr.pdf

[10] Express Web Desk. "Why over 500,000 Afghans were forced out of Iran in just 16 days and what's next?", The Indian Express, July 11, 2025, Access link: https://indianexpress.com/article/world/why-over-500000-afghans-were-forced-out-of-iran-in-just-16-days-and-whats-next-10120367/

[11] مصباح الله عبدالباقي. د افغان کډوالو اجباري را ايستل: د پاکستان امنيت ته ګواښ که د فشار وسيله؟ ناخپره شوې علمي- څېړنيزه مقاله.

[12] Express Web Desk. "Why over 500,000 Afghans were forced out of Iran in just 16 days and what's next?", The Indian Express, July 11, 2025, Access link: https://indianexpress.com/article/world/why-over-500000-afghans-were-forced-out-of-iran-in-just-16-days-and-whats-next-10120367/

[13] Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)